مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد غفوری

۲۰۲۶/۰۵/۲۰

# د دموکراسی د ناکامو تجربو انتقادي ارزونه

**سریزه**

د تحمیلي جمهوریت او تقلبی دموکراسی تجربي موږ ته دا وښوده چې یوازې د دموکراسی شعارونه، تش په نامه انتخابات، پارلمان او ظاهري سیاسي جوړښتونه نهشي کولای یو ملت د ثبات، عدالت او پرمختګ پر لور رهبري کړي. هغه نظامونه چې د ولس له ارادې، سیاسي شعور او ملي واقعیتونو څخه جلا وي، که هر څومره د ولسواکۍ ادعا وکړي، بیا هم د خلکو باور نه شي ترلاسه کولای.

په تیرو دوو لسیزو کې د دموکراسی د ناکامۍ مسئولیت یوازې د استبدادي، مافیایي او بهرنیو لاسوهنو پر غاړه نه دی؛ بلکې د هغو سیاسي او فکري جریانونو نیمګړتیاوې هم رول لري چې ځانونه یې د دموکراسی او پرمختګ مدعیان او استازي بلل.

په دې لیکنه کې هڅه شوې چې په لنډه توګه د دموکراسی د تېرو تجربو مهم درسونه وڅېړل شي او دا روښانه شي چې دموکرات ځواکونه باید په راتلونکي کې کومو اصولو او واقعیتونو ته جدي پاملرنه وکړي.

### د دموکراتو ځواکونو نیمګړتیاوې

#### ۱ ـ له ولس څخه واټن

په تېر تحمیلي اسلامي جمهوریت کې د دموکراتو او مترقي جریانونو یوه مهمه کمزوري دا وه چې د خلکو له واقعي ژوند او ورځنیو ستونزو څخه لیرې پاتې شول. د دوی ډېر سیاسي فعالیتونه تر ډېره په لویو ښارونو، محدودو سیاسي مجلسونو، رسنیزو بحثونو او د خپلو تنظیمي او فکري حلقو ترمنځ راڅرخېدل، خو له کلیو، عادي خلکو، بزګرانو، کارګرانو، بېوزلو قشرونو او حتی ډېرو ځوانانو سره یې ژور او دوامدار تماس کم و.

په داسي حالت کې ډېر وخت سیاست یوازې د نخبهګانو او محدودو سیاسي څېرو ترمنځ بحث پاتې شو، نه د عام ولس د عملي ژوند برخه. د خلکو اصلي ستونزې لکه بېکاري، فقر، ناامني، تعلیم، روغتیا او ټولنیزې اړتیاوې یا کافي نه اورېدل کېدې او یا هم په عملي او دوامدار ډول ورباندې کار نه کېده. په دې خاطر ډېرو خلکو دا جریانونه خپل استازي او د خپلو دردونو غږ نه باله.

#### ۲ ـ د دموکراسی د اصولو نه عملي کول

ډېرو هغو سازمانونو او اشخاصو چې د دموکراسۍ شعارونه ورکول، د دموکراسی له عملي تجربو بې برخې او یا خپلو نظریاتو ته وفادار نه وو. په خپل داخلي جوړښت کې یې د نظر ازادي، حسابورکونه، شفافیت او سالم انتقاد نه زغمه. په ډېرو مواردو کې فردي تصمیمونه، پر ټول ګوند باندې د خپل فریکشن د پریکړو تحمیل، شخصي سلیقې او تنظیمي انحصار د دموکراتیکو اصولو ځای نیولی و.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

د دموکراسۍ په اړه یوازې شعار ورکول بسنه نه کوي؛ اصلي خبره دا ده چې د دموکراسۍ اصول په عمل کې هم مراعات شي. په تېر وخت کې د دموکراتو او مترقي جریانونو یوه مهمه ستونزه دا وه چې که څه هم دوی د آزادۍ، عدالت او دموکراسۍ خبرې کولې، خو په خپلو داخلي جوړښتونو او سیاسي چلند کې یې هماغه اصول نه عملي کول.

ډېر ځله به مهمې پرېکړې د ګډو مشورو او دموکراتیکو پروسو پر ځای د څو محدودو اشخاصو له خوا نیول کېدې. یعنې د سازمانونو دننه فردي تصمیمونه، شخصي سلیقې او د قدرت انحصار غالب و. د رهبرۍ د بدلون او تناوب په وړاندې حساسیتونه ډېر و. په عموم کې د حساب‌ورکونې کمزورتیا (په تیره بیا د مالي چارو روښانتیا) هم یوه بله ستونزه وه. داسې ګوندونه او سازمانونه به ډېر کم وي چې مشرانو یې خپلو صفوفو ته د ګوند د مالي چارو روښانه حساب ورکړی وي. په رښتینې دموکراسۍ کې مشران او مسئولین باید د خپلو کړنو، پرېکړو او ناکامیو وضاحت ورکړي او که نه، نو د اصلاح او پرمختګ لاره محدودېږي.

دموکراسي یوازې سیاسي نظام نه دی، بلکې یو فرهنګ او طرز فکر هم دی. که یو سازمان په خپل داخل کې شفافیت، مشوره، د نظر احترام او حساب‌ورکونه ونه لري، نو په عملي ډول د دموکراتیکې ټولنې د جوړولو ادعا هم کمزورې کېږي.

## ۳ - شخصي او تنظیمي رقابتونه

د ملي اجماع او ګډې مبارزې پر ځای، شخصي اختلافونو، فرکسیوني میلانونو، تنظیمي رقابتونو او کوچنیو ګټو د دموکراتو ځواکونو ترمنځ بې‌باوري زیاته کړه. هرې ډلې ځان محور ګاڼه او د ګډ ملي هدف پر ځای یې خپل محدود سیاسي موجودیت ته لومړیتوب ورکاوه. د ګوندونو او سازمانونو په سر کې اکثراً داسې کسانو ځای نیولی و چې شخصي ګټې یې له عامو ټولنیزو هغو څخه لوړې ګڼلې. د دې پر ځای چې مختلف سیاسي او فکري جریانونه د هېواد د لویو ستونزو د حل لپاره ګډ کار وکړي، هره ډله تر ډېره د خپل نفوذ، نوم، تشکیلاتو او محدودو ګټو په ساتلو بوخته وه. کله چې سیاسي مشرتابه شخصي حسابونه او محدودې ګټې تر ملي او ټولنیزو اهدافو لوړې وبولي، نو سیاسي مبارزه خپله اصلي معنا له لاسه ورکوي.

په ډېرو مواردو کې کوچني اختلافونه دومره لوی کېدل چې د ګډ کار او اعتماد فضا یې له منځه وړله. کله ناکله شخصي رقابتونه او د رهبرۍ پر سر شخړې تر اصولي او ملي مسایلو مهمې بلل کېدې. هرې ډلې هڅه کوله چې ځان اصلي او برحقه وښیي او نور کمزوري یا بې‌اهمیته ثابت کړي. دا حالت د دې سبب شو چې د دموکراتو او مترقي ځواکونو ترمنځ یووالی او ګډ دریځ رامنځته نه شي.

فرکسیوني او تنظیمي ذهنیت ستونزه لا نوره ژوره کړې وه. د دې پر ځای چې اختلافات د سالم بحث او دموکراتیک تعامل له لارې حل شي، ډېر وخت سیاسي ډلې په کوچنیو حلقو ووېشل شوې او هرې حلقې یوازې د خپلو کسانو، خپلو اړیکو او خپل نفوذ د پراخېدو هڅه کوله. همدا بېلتونونه د خلکو په منځ کې هم د بې‌باورۍ سبب ګرځېدل.

په اصل کې، هر سیاسي حرکت هغه وخت اغېزمن کېدای شي چې ګډ هدف، متقابل اعتماد او د همکارۍ فرهنګ پکې موجود وي. که شخصي او تنظیمي رقابتونه تر ملي ګټو مهم شي، نو سیاسي ځواکونه ټوټې کېږي او نه شي کولای د ټولنې په کچه اغېزمن بدلون رامنځته کړي.

## ۴ - د نوي نسل کمزورې روزنه

په تېرو کلونو کې د ځوان نسل سیاسي او فکري روزنې ته هومره پاملرنه ونه شوه لکه څنګه چې د یوې سالمې او پرمختللې ټولنې لپاره اړینه وه. ډېرې ځوانان یا له منظمې فکري روزنې بې‌برخې پاتې شول او یا هم داسې چاپېریال ته ور ولوېدل چې پکې احساساتي، تقلیدي او تعصبي فکر تر آزاد او انتقادي فکر پیاوړی و.

په شل کلن اسلامي جمهوریت کې د ځوانانو یوه برخه د داسې مادي او مصرفي ذهنیتونو تر اغېز لاندې راغله چې پکې شتمني، شخصي ګټې او اقتصادي امتیازات تر فکري او ټولنیزو ارزښتونو مهم بلل کېدل. یوې برخې نورو بیا د سیاسي او مدني فعالیتونو خواته میلان ومونډ. سالمه سیاسي روزنه یوازې دا نه ده چې یو ځوان سیاست ته داخل شي؛ بلکې دا هم اړینه ده چې هغه د تحلیل، پوښتنې، انتقاد، زغم، ملي فکر او ټولنیز مسئولیت په داسې روحیه وروزل شي چې هره موضوع په دلیل او فکر وارزوي، نه دا چې یوازې د اشخاصو، شعارونو یا احساساتو تر اغېزې لاندې پرېکړې وکړي. په عملي ډګر کې ډېرې سیاسي او فکري جریانونه ونه توانېدل چې داسې بافکره، مستقل او مسئول



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ځوانان وروزي چې د راتلونکي سالم مشرتابه بنسټ جوړ کړاي شي. په دې خاطر سیاسي ډګر تر ډېره د تېرو سیالیو، زړو څېرو او پخوانیو فکرونو تر اغېز لاندې پاتې شو. نوې نظریې، نوې انرژي او عصري سیاسي لیدلوري کمزوري وو او ځوان نسل ته د رهبرۍ او عملي تجربې زمینه کمه برابره شوه.

یوه بله مهمه نیمګړتیا دا وه چې ځوانانو ته د سازماني او عملي تجربو د زده کړې لپاره لازم فرصتونه کم وو. په ډېرو سیاسي او مدني جریانونو کې ځوانان یوازې د ملاتړ کوونکو او عملي اجراکوونکو په توګه کارول کېدل، خو د تصمیم نیولو، مدیریت، بحث، مذاکراتو، د اختلاف د حل، عامه اړیکو او سازمان جوړونې په برخو کې ورته د پخو روزونکو له لوري د منظم کوچینګ او روزنې شرایط برابر نه و.

رهبري یوازې د شعارونو او احساساتو له لارې په ناڅاپي ډول نه رامنځته کېږي؛ بلکې سالم مشران تدریجي روزنې، دوامدارې تجربې او عملي کار ته اړتیا لري. ځوانان باید د فکري زده کړو تر څنګ په عملي سیاسي، مدني او سازماني فعالیتونو کې هم وروزل شي، څو وکولای شي چې د ټیم او سازمان د مدیریت وړتیا پیدا کړي؛ د ستونزو د حل او تصمیم نیولو تجربه ترلاسه کړي؛ د خلکو سره د ارتباط او اعتماد جوړولو مهارتونه زده کړي او د سالمې رهبرۍ مسئولیت په تدریجي ډول پر غاړه واخلي.

کله چې یوه ټولنه یا سیاسي جریان د ځوانانو د روزنې، کوچینګ (Coaching ) او عملي تجربو لپاره دوامدار پروګرام ونه لري، نو د رهبرۍ تشه رامنځته کېږي. په داسې حالت کې یا هماغه زاړه اشخاص د زړو فکرونو سره تل په صحنه پاتې کېږي، او یا هم بې تجربه او احساساتي کسان ناڅاپه د رهبرۍ مقام ته رسېږي چې د لویو مسئولیتونو د سم مدیریت لازم ظرفیت نه لري.

کله چې یو نسل سالم فکري بنسټ او تدریجي عملي تجربې ونه لري، نو معمولاً دوه حالتونه رامنځته کېږي، یا په تقلیدي ډول د زړو او ناکامو سیاسي دودونو پیروي کوي او یا هم ژر د افراطي، احساساتي او تندلارو شعارونو تر اغېز لاندې راځي. بې‌روزنې او بې‌سیاسي شعوره ځوانان ډېر وخت د ژورو تحلیلونو پر ځای د احساساتو، تبلیغاتو او جذابو شعارونو له مخې متأثر کېږي. همدا تشه افراطي ډلو او عوامفریبو جریانونو ته زمینه برابروي چې د ځوانانو احساسات د خپلو موخو لپاره وکاروي.

د دې کمزورې روزنې بله پایله دا وه چې سیاست له فکري او عملي پرمختګ څخه وروسته پاتې شو. نه د نوې رهبرۍ قوي نسل رامنځته شو، نه سالم سیاسي بدیلونه جوړ شول، او نه هم داسې مشران وروزل شول چې هم پوهه، هم ملي احساس او هم د مسئولیت ظرفیت ولري.

په اصل کې، هره ټولنه چې د خپل ځوان نسل پر فکري، تعلیمي، سازماني او سیاسي روزنه پانګونه ونه کړي، د راتلونکي له بحران سره مخ کېږي. ځکه د ټولنې دوام، بدلون او سالم مشرتابه د همدغو ځوانانو له فکر، تجربې او ظرفیت سره تړلی وي.

**پایله:**

په ټوله کې دا لیکنه موږ ته دا مهم درس راکوي چې د دموکراسۍ ناکامي یوازې د بهرنیو لاسوهنو یا استبدادي جوړښتونو نتیجه نه وه، بلکې د دموکراتو او مترقي جریانونو داخلي کمزورتیاوې هم یکې اساسي رول درلود.

له ولس څخه واټن، د دموکراتیکو اصولو نه عملي کول، د شخصي او تنظیمي رقابتونو پراخېدل، او د نوي نسل کمزورې فکري او سازماني روزنه هغه بنسټیز عوامل وو چې د دې جریانونو اغېزمنتیا یې محدوده کړه. په ځانګړې ډول د ځوان نسل د سالمې روزنې او عملي تجربې نشتوالی د دې سبب شو چې نه قوي بدیل رهبري رامنځته شي او نه هم د دموکراسۍ فرهنګ په ټولنه کې ژور شي.

دا تجربه ښیي چې رښتینې دموکراسي یوازې په شعارونو، جوړښتونو او انتخاباتو ولاړه نه وي، بلکې د ولسي اړیکو، داخلي دموکراسۍ، ملي یووالي او د نسلونو د منظمې روزنې پر بنسټ جوړېږي. که دا عناصر موجود نه وي، نو د دموکراسۍ ظاهري چوکاټ هم دوامداره ثبات او مشروعیت نه شي رامنځته کولای.

په لنډ ډول، د راتلونکي لپاره اساسي اړتیا دا ده چې سیاسي جریانونه له ولس سره ژور ارتباط، د داخلي دموکراسۍ عملي کول، د شخصي رقابتونو کمول، او د ځوان نسل منظمه فکري او عملي روزنه خپل لومړیتوب وګرځوي؛ ځکه همدا عناصر کولای شي د یوې سالمې، ملي او پایدارې دموکراسۍ ریښتینی بنسټ رامنځته کړي.

نور محمد غفوری، ۱۸/ می/۲۰۲۶م


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ